دافغانستان د ټاکنو د څار مؤسسه
مؤسسه دیده بان انتخـــــابات افغانســـتان
Election Watch Organization of Afghanistan

Election Watch Organization of Afghanistan (EWA)
House # 257, 3th Street on the right side, AIHRC Street, Kart e Se, Kabul
TEL: 0093-799225841
Email: ewa.afghanistan@gmail.com Web: www.ewa.org.af

مطبوعاتي اعلاميه

دوشنبې 3 / وری /1394

د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون د جوړیدو په هکله د افغانستان د ټاکنو د څار مؤسسې (ایوا) لید لوری

د افغانستان د ټاکنو د څار مؤسسه (ایوا) د څو میاشتو د ځند څخه وروسته د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون د جوړیدو په اړه د ولسمشر له فرمان څخه هرکلی کوي او هیله څرګندوي چې دغه کمیسیون وکولای شي د انتخاباتی نظام د اصلاح په برخه کې ټولو اړتیاوو ته هر اړخیز ځواب ووایي.

(ایوا) د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون د غړو لست د مدني ټولنو د هغو وړاندیزونو سره چې د دغې کمیسیون د ترکیب، او د غړو د شرایطو په اړوندیې د مخه د حکومت لوړپوړو چارواکو سره شریک کړي، ارزولی او دې نتیجې ته رسیدلې چې په دغه کمیسیون کې د دواړو سیاسي ټیمونو د استازو په پرتله د مدني ټولنې د استازو ونډه ډیره کمه ده.

همدا رنګه لیدل کـېږي چې د نوموړي کمیسیون د غړو د ټاکلو پرمهال، د انتخاباتو په برخه کې د تخصص او تجربې معیارونه سم په پام کې نه دي نیول شوي، څرنګه چې په دغه ترکیب کې د ناظرو نهادونو ونډه اصلا هیڅ شتون نه لري.

همدې مسالې ته په پام سره، (ایوا) اندیښنه لري چې د ټاکنیزو اصلاحاتو بهیر سیاسي رنګ پیدا کړی او هغه بنسټیز اصلاحات چې د خلکو او مدني ټولنې غوښتنه ده، په بشپړه توګه له پامه غورځیدلي.

(ایوا) د دغې تشې د ډکیدو په موخه وړاندیز کوي چې د اصلاحاتو کمیسیون باید خپل کارونه داسې تنظیم کړي چې د مدني ټولنو نهادونو په خانګړې ډول اړوند انتخاباتی تخصصی بنسټونو سره نږدې همکاري ولري او د اصلاحاتو په لړ کې د هغوي نظریات اوپیشنهادات په پام کې ونیسي تر څو د هېواد په ټاکنیز نظام کې لازم او هر اړخیز اصلاحات رامنځته او په عملي بڼه د انتخاباتي پروسو شفافیت او رونټیا پیاوړي کړي.

د اړیکوشمېرې: 0708293045-- 0706706720

www.ewa.org.af